بسم الله الرحمن الرحيم

**خبر او تبصره**

# په کودتا له کودتا ځان ساتل

**خبر:**

ولسمشر اردوغان له پاکستانه د بېرته تګ پر مهال په ترکيه کې د يوې نوې کودتا د اوازو په اړه د خبرياﻻنو پوښتنو ته په ځواب کې وويل: «زموږ خلک به له کور څخه په راوتو کې دوه زړي نه شي، بلکې ټول به راښهر شي او تر خپله وسه به يې مخه ونيسي.» (Yeni Safak 15.02.2020)

**تبصره:**

د مسلمانانو د حکامو يوه لويه ځانګړنه دا ده، چې کله له ګواښه بچ وي، سيکولر ډيموکراټيک نظام ته مخه کوي او کله يې چې قدرت او واک ته ګواښ متوجه وي، له خلکو څخه د ځان لپاره ډال جوړوي.

په دې وروستيو کې د ترکيې په عامه فضا کې د کودتا خبرې ډېرې کېږي. په ځانګړې ډول دغه حقيقت ته په کتو چې د امريکايي کارپوهانو يوې ډلې په ترکيه کې د يوې نظامي کودتا د امکان په اړه ويلي؛ د تش په نامه سياستمدار دوګو پېرينسيک – چې د سيکولر کمالي لارې پلوی دی- خبرې، د متکبر تقاعد شوي جنرال اېلکر باسبوګ ګواښونه او د غلامو ليکوالو بحثونه چې د خبرو اجنډا يې کودتا ټاکلې وي، ځينې نښې بلل کېږي.

ظاهراً، سيکولر کمالي انګليسي اړخ غواړي چې لږ تر لږه دولت وويروي. د عقل او استدلال څښتنان پوهېږي، ترڅو چې اور د امريکا او انګليس په لاس کې وي، دا امکان شته چې امت ته به ډېر زيان ورسوي. دا چاره په ګڼو هېوادونو کې وشوه او په تاريخ کې يې ښېلګې پرېمانه دي.

د ولسمشر اردوغان خبرو ته که وګورو، له يوه لوري هڅه کوي چې د وېرې له فضا څخه د خپل قدرت او واک د ساتلو لپاره ګټه واخلي. له بل لوري بيا غواړي چې د خلکو په غبرګون هغه کسان وويروي، چې د کودتا قصد لري. دا خبره يو ځل بيا روښانه شوه، چې سياسيونو ته د خپل قدرت د ساتنې لپاره شخصي او سياسي ګټې اړينې دي.

د جولای د ۱۵ مې د کودتا پر مهال د امت بچيانو ځانونه د ټانګونو پر وړاندې ډال کړل او د «الله اکبر» په نارو يې کودتا کوونکي ودرول. پر دې سربېره بيا د ډيموکراسۍ له کبله پر دغو کسانو ظلمونه وشول. د کودتا پلويانو د امت د بچيانو بدنونه تر پښو لاندې کړل او سياسيونو د خپل قدرت او ډيموکراسۍ په ګټه کار ترې واخيست.

د کودتا پلانونه د کفارو پر مېزونو جوړېږي او زموږ خاین چارواکي یې په دغو هېوادونو کې له پېړۍ راهیسي پر خپلو ولسونو عملي کوي.

د هغو ظالمو حکامو ګټې او خیانت چې قبله یې غرب دی، د دې سبب شوې چې په ۱۹۲۴م کال کې زموږ د خلافت پر وړاندې کودتا وکړي او خپل د سیکولرېزم او ډیموکراسۍ خرافاتي نظام راولي. له هغه وخت راهیسي دوی هڅه کړې، چې د کودتا د وېرې په خورولو سره خلک راپورته کړي او خپل دغه خرافاتي نظام پرې وساتي.

هوښیاران پوهېږي، دغه نظام چې د الله سبحانه وتعالی د دین د سلطې پر وړاندې یې کودتا وکړه، د خلکو پر وړاندې هم د دغه کار له کولو دریغ نه کوي. د دې خبرې ثبوت دا دی چې د جمهوریت او کودتاوو تاریخ یو دی. څه شی پر دغې خبره د باوري کېدو لامل کېږي، چې ډیموکراسي به دوی وساتي؛ په داسې حال کې چې ډیموکراسي پخپله د کودتا پر اساس د حکومت کولو یو مېتود دی.

دا فکر مه کوئ چې د امت بچیانو خپل ځانونه د ډیموکراسۍ لپاره مرمیو ته ډال وګرځول، بلکې دوی یوازې د خپل دین، عزت او وقار لپاره راوتلي وو. د امت ځانونه باید نور د کودتا کوونکو تر پښو لاندې نه شي او نه هم د سیاسونو د ګټو لپاره وکارول شي.

دغه امت باید سیکولر ډیموکراتیک نظام له منځه یوسي او هغه مهال بیا له کودتاوو څخه بېغمه کېدلی شي، ځکه دا د کودتا پر اساس جوړ شوی دولت دی. دغه امت باید داسې حکام واکمن کړي، چې د الله سبحانه وتعالی د دین پر اساس حکومت وکړي، داسې قاضیان چې له شریعت سره سمه پرېکړه وکړي او داسې قومندانان او پوځونه چې د الله سبحانه و تعالی د دین د سلطې لپاره وجنګېږي، هغه وخت به دا کودتاوې او د کفارو شوم پلانونه شنډ شي.

هوښیارانو ته دغه یوه رښتینې حللاره ده!

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## احمد ساپا